پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۶/۰۱/۲۳

# لنډۍ د خلکو مال، که د شخص مال؟

## ۱

## لنډۍ او د لنډیو د ثبتولو ستونزه

## شپاړسمه برخه

د لنډیو د منابعو د پیژندلو او د لنډیو په باب پر نظریاتو باندې د بحث په لړ کې اوس تم کیږم یوه د بحث وړ نظر ته. څه موده پخوا پیاوړي شاعر او محقق باري جهاني د پښتو ادب په باب د یوې رسالې په اندازه یوه لیکنه خپره کړه. ده د دې لیکنې په ترڅ کې د لنډیو په باب هم نظر څرګند کړی دی. جهاني صاحب خپلې دې لیکنې ته «د پښتو نظم ځینې توکي او اړخونه» سر لیک ټاکلی دی. دا څېرنه څه د پاسه اویا مخه ده او د ۲۰۱۴ کال د دسمبر په وروستیو کې په ځینو ویبپاڼو کې خپره شوه. جهاني په دې څېړنه کې د پښتو ژبې د نظم پر ډولونو او ځانګړنو باندې بحث کړی دی. د ځینو برخو د معرفی په څنګ کې پر پښتو لنډیو هم بحث کړی دی. جهاني د خپلې رسالې په پیل کې د خپلې لیکنې هدف داسې په نښه کوي:

«پښتو لیکلی نظم زیاتره د فارسي او عربي نظمونو سره توپیر نه لري او د نظم په قوانینو کې یې شریکه لاره ورسره نیولې ده. باید چې موږ د پښتو نظم پر ځای په عمومي صورت د نظم د توکو په باره کې ږغیدلي وای، خو څرنګه چې د پښتو په نظم کې فوکلوري نظمونه هم شامل دي او هغه له فارسي او عربي سره څرګند توپیر لري او وروسته به وګورو چې پښتو نظم، په تیره بیا د سیلابونو د شمیر په برخه کې، له فارسي نظمونو سره څرګند توپیر لري، نو ځکه په مشخصه توګه د پښتو نظم د جوړښت او ځینو اړخونو په باب لیکنه کوو. کله چې د نظم خبره رامنځته کوو، نو لومړنی شی چې ورسره مخامخ کیږو او په وجود سره یې نظم له نثر څخه بیلیږي هغه قافیه ده. ځکه نو د قافیې په باب په عمومي صورت یو څه ویل لازم دي.»

جهاني د خپلې لیکنې په لړ کې د پښتو نظم پر نورو توکو هم غږیدلی دی، چې زه دلته کار نه ور سره لرم. دلته زه د ده پر هغو نظریاتو غږیږم چې ده د لنډیو په بحث کې مطرح کړې دي.

ښاغلی جهاني د لنډیو د بحث په پیل کې د لنډیو په باب هماغه د نورو خلکو خبرې کوي، خو لږ په نوې بڼه. دا د لنډیو په باب د ده د خبرو یو برخه ده:

« د پښتو ژبې په فوکلوري نظمونو کې یوازې لنډۍ دي چې د سیلاب په برخه کې هیڅ ډول کموالی او زیاتوالی نه مني. لومړی برخه یې باید حتما نهه سیلابه او دوهمه برخه یې باید هرو مرو دیارلس سیلابه وي. که داسې نه وي نو په هغې لنډۍ کې د اصیلي لنډۍ خوند نه پاته کیږي. د بلې خوا، که هر څو یوه لنډۍ د نهو او دیارلسو سیلابونو څخه جوړه سوې وي خو چې د« نه» او «مه» په تورو پای ته رسیدلې نه وي هغه ته نه لنډۍ ویل کیږي او نه د لنډۍ خوند کوي.»

په دې رساله کې چې کوم بحث جهاني د لنډیو په باب کړی دی، څو ټکي په کې د پام وړ دي:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

۱ــ لنډۍ د پښتني ټولني او پښتني ژوند تر ټولو ښه او مستند تاريخ او ښه هنداره ده،

۲ــ د پښتو ژبې ډېره سلنه لنډۍ چې تخليق يې ښځو ته منسوب دی، دا د ښځو نه، بلکې د نارينه وو تخليق دی،

۳ــ د لنډيو لرغونوالی څومره چې فولکلور څيړنکو ښودلی دی، دا مستند نه دی،

۴ــ هر څوک کولای شي چې لنډۍ په خپل نامه ثبت کړي.

د لنډيو په باب د جهاني صاحب پر دې هر يو نظر به د نورو څيړونکو نظرياتو ته په پام سره خبرې وکړم:

۱ــ لنډۍ د پښتني ټولني او پښتني ژوند تر ټولو ښه او مستند تاريخ او ښه هنداره ده:

جهاني د خپلي ليکني«د پښتو نظم ځيني توکي او اړخونه» د لنډيو په بحث کي د لنډيو په باب ويلي دي چې لنډۍ د پښتني ژوند د يوې ريښتيني هنداري په توګه د هيڅ کلتور اغيز پر ځان نه دی منلی چې په رښتيا هم همداسې ده، دا د جهاني خپلي خبري دي:

«لنډۍ، د اتڼ ناري او بابولاله(چې وروسته به بحث وربانديې وکړو) ښايې د پښتنو د کلتور او عنعناتو، د هغوی د ټولني او د هغوی د خپلو خصوصياتو تر ټولو ښه او لرغوني ښکارندوی وي. که د پښتو نظم نورو شکلونو لکه غزل، رباعي، قصيدې او مثنوي، په يوه او بل رنګ، د ګاونډيو نظمونو تر اغيزې لاندي وده کړې وي، نو دا په پوره جرأت سره ويلای سو چې لنډۍ او بابولاله تقريباً د هيڅ کلتور تر اغيزې لاندي نه دي راغلي او د شکل او مضمون له پلوه يې بشپړه مستقله وده کړې ده. د يوې لنډۍ په همدغو نهو او ديارلسو سيلابونو کي هدف او موضوع، په مستقله توګه، داسې افاده کيږي چې د بلي لنډۍ سره تړلو ته چنداني ضرورت نه پاتيږي. لنډۍ د موضوعاتو له پلوه دونه غني ده چې د جنګونو له تودو سنګرونو څخه نيولې، تر مړاني او نامردۍ، د ميني تر راز و نياز، د ښکلا تر ستايلو، د خيالي ګودرونو سره د پيغلو تر پيزوانونو او پايزيبونو، ترږورګلويو او تقريبا ټولو اجتماعي او اخلاقي موضوعاتو پوري پکښې نغښتي دي. زموږ په ګاونډيو کلتورونو کي د سيلابونو په دغه ترکيب او نظم او د موضوعاتو په دغه غنا او ښکلا د فوکلوري نظمونو مثال نه ليده کيږي.»

د لنډيو په باب دغه نظر نوی نه دی، بلکې له جهاني نه پخوا نورو کورونيو او بهرنيو څيړونکو او د نظر خاوندانو د لنډيو په باب همدا نظر وړاندې کړی دی او د لنډيو په باب زما د څيړني په ځينو برخو کې په دې باب د نورو څيړونکو د نظرياتو تر څنګ، زما خپل نظر همداسې دی چې لنډۍ د پښتني ټولني او پښتني ژوند تر ټولو ښه او مستند تاريخ او ښه هنداره وه او ده.

۲ــ د پښتو ژبې ډېره سلنه لنډۍ چې تخليق يې ښځو ته منسوب دی، دا د ښځو نه، بلکې د نارينه وو تخليق دی:

جهاني د خپلي رسالي د لنډيو په بحث کي د پښتني فولکلور څيړونکو خلاف ځيني نظريات وړاندې کړي دي. د پښتني فولکلور څيړونکو ډيره سلنه څيړونکي په يوه خوله دا خبره کوي چې د پښتو لنډيو ډيره برخه ښځينو تخليق کړې ده.

خو جهاني بيا وايي چې نه، کومي لنډۍ چې ښځينو ته منسوبي دي، دا د پښتنو ښځينوو له لوري نه دي ويل شوي، بلکې دا په خپله نارينه وو ويلي دي او په ښځينوو پوري يې تړلي دي. ښه مثال يې هم حماسي لنډۍ ښوولي دي. جهاني په دې برخه کې داسې استدلال کړی دی:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

«دغه راز دا خبره زما په عقیده د تاءمل وړ ده چي وایی اکثریت لنډۍ د پښتنو ښځو ویلي او جوړي کړي دي. زه فکر کوم چي د پښتنو مخ پوټو، له معاشرې څخه لیري ساتلیو سویو او بیسوادو ښځو، په دې ښایست، د نظمونو د لیکلو توان نه درلود. دا لنډۍ، زیاتره، پخپله نارینه وو لیکلي او ویلي او ښځو ته یې منسوبي کړي دي. اولسي شاعرانو دا غوره بللې ده چي خپل جنګي میرونه د ښایستو پیغلانو په واسطه جنګ ته وهڅوي، او بیا نو وعده ورکړي چي که په جنګ کې ټپي سو نو، پر هغه باندي مینه او د هغه په نامه ناسته ښایسته پیغله، به د هر پرهار د ګنډلو سره یو ځل خوله ورکوي. او که چیري شهید سو نو دا به خپل سور شال د هغه پر زیارت وغوړوي او که یې چیري په جنګ کې بې ایماني وکړه او پر شا راغی نو هغه ښایسته پیغله به چي د ده په تمه ناسته ده په همزولو کي څوري سترګي ګرځي. نارینه شاعرانو د میني په برخه کي خپل د زړه براس ایستلی او ښځو ته منسوبول یې غوره بللي دي. وروسته داسي فکر سوی دی چي دا لنډۍ په حقیقت کي هم ښځو ویلي دي. البته احتمال لري چي ښځو هم د لنډیو د جوړولو په برخه کي یو څه ونډه اخیستي وي، خو زه فکر نه کوم چي د پښتني ماحول شرمیندوکو، حیاناکو، او له تقریبا ټولو اجتماعي حقوقو څخه محرومو ښځو دي د لنډیو په ژبه د میني د اظهارولو زړه کړی وي. هغه پیغلاني به چي حتی نن ورځ د یوه مشروع میړه د انتخابولو حق نه ورکول کیږي او که چیري د پلار او مشرانو د اجازې او خوښي پرته ځانته د ژوند ملګری انتخاب کړي د وژل کیدلو له خطر سره مخامخ کیږي، هغوی به، دوه درې او حتی څلور سوه کاله مخکي، څرنګه په دومره ښایستو کلماتو د خپلي سوځنده میني د اظهارولو جرأت کړی وي. په هغه اندازه چي د پښتنو په تاریخ کي ښځینه شاعراني د ګوتو په شمیر دي، په هغه اندازه یې د لنډیو شاعري هم کمه ده او که یې چیري لنډۍ جوړي کړي وي هم به د ګوتو په شمیر وي.»

زه ښاغلي جهاني ته او د ده نظریاتو ته له درناوي سره سره، د ده له دې نظر سره موافق نه یم او دا د یو انسان او د یوې پښتني له استعداد نه منکریدل ګنم او د ټولني د یوه قشر پر استعداد باندي یې خاوري اړول ګنم. د لنډیو په باب له پیل نه تر نن پوري ډیره سلنه فولکلوریستان او څیړونکي په دې عقیده دي چي د لنډیو د ډیرې سلني تخلیقونکي، پښتني پیغلي او میرمني دي چي د بند ټولنیز چاپیریال او په دې چاپیریال کي پر دوی باندې د شوو ظلمونو انعکاس او د خپل دردیدلي زړه غږ یې په کي اوچت کړی دی.

په تیرو زمانو او اوس هم په ډیره سلنه هغو سیمو کي چي پښتني میرمني په ورته شرایطو او ترلو چاپیریالونو کي ژوند کوي، د غږ د اوچتولو او د زړه د براس د ایستلو یوازینی لار همدا د لنډیو ایجاد دی. ډیر اوسني ژوندي څیړونکي د همدې پاسني نظر پلویان دي لکه: سلیمان لایق، حبیب الله رفیع، اعظم سیستانی او نور.

سلیمان لایق د لنډیو په باب د خپلو څیړنو په یوه برخه کي د لنډیو د ډیرې سلني تخلیقونکي ښځي ګڼلي دي. لایق د «پښتو لنډۍ» (پښتو لنډۍ،دافغانستان دعلوموااکاډیمي،پښتوټولنه،۱۳۶۳ ل کال) نومې ټولګي په مقدمه کي پر لنډیو باندې ډیره اوږده څیړنه کړې ده او په ځانګړي ډول یې د لنډیو په تخلیق کي د ښځو رول باندې خبرې کړې دي. ده په خپله لیکنه کي دې موضوع ته دا سرلیکونه ټاکلي او بحث یې ور باندې کړی دی:

ـ لنډۍ د ښځې د تاریخي، اجتماعي موقعیت صادق ویندوی(د مقدمي شپږ دیرشم مخ)

ـ په ښځمنو لنډیو کي د اعتراض تاریخي سر چینه(د مقدمي یو څلویښتم مخ)

لایق په پاس یاد اثر کي د لنډیو په باب د خپلو نظریاتو په یوه برخه کي داسي ویلي دي:

«څنګه چي ډیره سلنه لنډۍ دښځوله خوا تخلیق شوي دي، نو هر کله که څوک پنځه لنډۍ ووایي، یا یې واوري، یا یې ولولي؛ نو لیدل کیږي چي له هغو پنځو لنډیونه په دریو کي، یا ښځه خبرې کوي، یا د ښځو په باب خبرې کیږي.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

په لنډیو کې د ښځو  دریځ د هغو دودونو پرخلاف لیدل کیږي، چې د هغو له مخې په ټولنه کې له ښځو سره ناوړه چلند کیږي. کوم دریځ چې ښځه په افغاني ټولنه(په ځانګړي ډول پښتني ټولنه) کې لري، په لنډیو کې ښځه د هغه دریځ پر ضد را جګیږي، غبرګ اوچتوي، انتقاد کوي، په مستقیم او غیر مستقیم ډول د خپلو حقوقو د غوښتلو مسأله مطرح کوي. د لنډیو میدان دومره پراخ دی چې ښځه کولای شي  د هرډول کورنیو، کلیوالي، قبیلوي، ښاري او نورو چاپیریالونو د منفي اړیکو پر ضد خپل غږ اوچت کړي، خپله مینه څرګنده کړي، د درد، غم، خوښیو، ظلم، تیري، عدل او... په باب خپل احساسات څرګند کړي او په ځانګړي ډول د ټولنیزو ظالمانه نا وړه شرایطو پرضد غږ اوچت کړي.»(د مقدمې۴۱-۴۷مخونه)

د نجونو او ښځو له خوا د تخلیق شوو لنډیو څو نوې او زړې بیلګې:

پریږده چې بند په بند مې پرې کړي

ما چې د ژنو یاري کړه مرګ ته ور تلمه

چیرې پناه شوې په غم ورکه

ما په اوښانو بدلوې، تا غرقوینه

پلاره کوډله دې ایره شه

سورکی منه دې په کارغانو وخوړمه

د دې برخې د ښه پای له پاره دا څو لنډۍ:

د کلي یو نوي کوڅې دي

جانانه ستا لیدو ته چیرې ودریږمه

وطن د غلو شو د ملا شو

په هر یو اړخ د بې وطن ټاپې ارمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پاس په هوا اوسیدی نه شم

په اوبو وچه خو ځای نه راکوینه

وطن دې ستا وي ملا ګله

د تا فتواوو ته به څوک ځان ټینګوینه

د ربابو به دې څوندې شم

له ملایانو نه مې پټ ساته مینه

ته به بیا راشې که را نه شې

تورې کوڅې مې در ته سپینې کړې مینه

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ